PRESS RELEASE

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه، په افغانستان کې حاضر غړي هيوادونه يې او ناروې د ټاکنيز بنسټونو د نويو غړو له ټاکنې څخه هرکلی کوي

*کابل- د **2016** کال د نومبر **23***

اروپايي ټولنه، په افغانستان کې حاضر غړي هيوادونه يې او ناروې د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکاياتو د کميسيون د نويو غړو د ګمارلو څخه هرکلی کوي.

نوي ګمارنې د لازمو ټاکنيزو اصلاحاتو د پلي کولو او د ټاکنو لپاره د چمتوالي په لور يو اړين ګام دی. د با اعتباره او دوره ايی ټاکنو ترسره کول د نظام د مشروعيت لپاره اړين دي .

مور د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکاياتو د کميسيون څخه غواړو ترڅو د رڼو او هر اړخيزو ټاکنو په هدف چې و کولای شي ټاکنو باندې د خلکو اعتبار بيرته ترلاسه کړي، کار وکړي .

د رای ورکوونکو د نومونو د ثبت او امنيتي او لوژستيکي تياريو په ګډون، هغه ځانګړو موضوعاتو ته په پاملرنې چې پر وخت پريکړې ته اړتيا لري، مونږ د باورمندو ټولټاکنو د تقسيم اوقات د تياريو په تمه يو.

اوس افغانستان لپاره يوه نوي فرصت برابر شوی ترڅو اړين تاکنيز اصلاحات پلي کړي. په لومړي ګام کې بايد ټول سياسی مشران په فعاله توګه د سوله ايزو، هر اړخيزو، آزادو او عادلانه ټاکنو څخه ملاتړ وکړي. دغه موضوع د راتلونکو ټاکنو د اعتبار لپاره اړينه ده. د تير ځل کمزوريو او تقلب څخه د مخنيوي تدابير هم کولای شي د ټاکنو د اعتبار په بيا لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي .

اروپايي ټولنه او غړي هيوادونه يې او ناروې د يو با ثباته او دموکراتيک افغانستان په موخه د افغانستان د خلکو د هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي.

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کيل اندرسن
د رسنيو او عامه اړيکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړې استازی
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ايميل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu